مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۳/۰۴/۱۰

یوځل بیا «چشمهٔ شبنم»

لنډۍ، د ښتولو ستونزه

دوه سوه‌ځلورمه برخه



په شملګۍ دې شوم غلطه
د بې ننګۍ نه دې زه څه خبره ومه

فریب شمله ات را خورده بودم
چی میدانستم از بی ننگِی تو

*****

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

هره ګړۍ راته په یاد یې
د خدای دې هېره شم چې تا به هېرومه

تویی در خاطرم هر ساعت و هر دم
فراموشی خدا گردم، اگر گردی فراموشم

ما ځه موده مخکې د لنډیو د یوې نوې ټولګې (چشمهٔ شبنم) په باب یوه تفصیلي مقاله ولیکله او په ځینو ویبپاڼو کې مې خپره کړه. د یادې مقالې د لیکلو په لړ کې ما د لومړي لاس موادو ته اړتیا درلوده او په همدې بهانه مې له درانه فرهنګي عبدالله شادان د ټیلیفون له لارې خبرې وشوې، عبدالله شادان په همدې ټولګه کې د پاملرنې وړ پښتو لنډۍ دري ژبې ته په استادانه او هنرمندانه ډول ژباړلې دي، له ده نه مې هیله وکړه چې که امکان ولري ما ته دې د «چشمهٔ شبنم» ټولګه راولېږي چې زه د کتاب مقدمې ولولم، د کار پر څرنګوالي باندې ځان پوه کړم او له هرڅه مهمه دا چې د کتاب له اصلي متن نه د یو څو ژباړل شوو لنډیو بېلګې په خپله خوښه راواخلم. ښاغلي شادان هم د کتاب د رالېږلو وعده وکړه؛ خو په انګلستان کې د کاربندیزونو په لړ کې د انګلیس د پوست برخې کارکوونکو د خپل کار بندیز په لړ کې یو شرط دا ایښی چې له یاد هېواد څخه بهر ته به پوست نه لېږدوي. لنډه دا چې په هغه وخت کې کتاب را ونرسېد او ما خپله مقاله (چشمهٔ شبنم، له موزونې دري ژباړې سره، د لنډیو نوې ټولګه) خپره کړه

نن (۲۰۲۳/۰۳/۲۹) مې چې پوستبکس خلاص کړ، که ګورم چې «چشمهٔ شبنم» ټولګه پکې پرته ده. زه له ښاغلي شادان څخه د زړه له تل نه مننه کوم چې خپله وعده یې پوره کړه او ما ته یې د «چشمهٔ شبنم» د لیدلو او لرلو وياړ را وباښه.

ښاغلي شادان د کتاب په دویمه پاڼه کې د خپلې فرهنګي زحمت دا نسخه ما ته داسې ډالۍ کړې ده:

«اهدأ به جناب آصف بهاند ادیب و ادب شناس و فرهنگي گرامی. عبدالله شادان، ۲۰۲۳/۰۱/۱۷ ، لندن»

دا دی په همدې بهانه به اوس زه تاسو درنو لوستونکو ته د کتاب له متن څخه د څو هغو ژباړل شوو لنډیو بېلګې وړاندې کړم چې ښاغلي شادان په استادانه او هنرمندانه ډول داسې ژباړلې دي چې په ریښتیا سره یې د دواړو ژبو حق ورادا کړی دی:

هلکه ځانته غره نه شي
که ته چنار يې، زه د ګلو لښته يمه

ژباړه:

ای پسر مغرور جان خود مشو!
تو چنار استی اگر، من شاخه ی گل هاستم (۲۴۱ ام مخ)

*****

یووار مې ټینګه کړه په غېږ کې
بېګاه مې مړ په خوب لیدې، لیونۍ شومه

ژباړه:

تنگ بفشارم در آغوشت دمی
مرده ات دیدم به خواب دوش، دیوانه شدم (۲۳۸ ام مخ)

*****

په سره دوزخ کې دې دېره شه
کور دې ایره شه زه دې اور ته ونیومه

ژباړه:

جایگاهت دوزخ سوزان شود
در فگندی ام به آتش، خانه خاکستر شوی (۲۲۰ ام مخ)

*****

په زړه به لویه تیږه کېږدم
جانانه تا له به یې وروړو صبرومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ژباړه:

مي گذارم بر دلم سنگی بزرگ
از تو صبرش میکنم جانان من!
آهسته ـ آهسته (۲۲۲ ام مخ)

*****

په شملگی دې شوم غلطه
د بې ننگی نه دې زه څه خبره ومه

ژباړه:

فریب شمله ات را خورده بودم
چې میدانستم از بې ننگيِ تو (۲۲۷ ام مخ)

*****

هره گړی راته په یاد يې
د خدای دې هېره شم چې تا به هېرومه

ژباړه:

تویی در خاطرم هر ساعت و هر دم
فراموشی خدا گردم، اگر گردی فراموشم (۲۲۸ ام مخ)

*****

زړه دې ارام کړه مسافره
بوی مو د باد په لاس دروستاوه مینه

ژباړه:

ای مسافر قلب خود آرام کن!
من برایت بوی خود را میفرستم، دست باد (۲۳۲ ام مخ)

یادونه:

د «چشمهٔ شبنم» بشپړه پته دا ده:

چشمهٔ شبنم (مجموعهٔ لندی های زبان پښتو)، مترجم: عبدالله شادان، انتشارات آن، هرات ـ افغانستان، سال: ۱۴۰۰ هـ ش)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ